AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
*www.al-aasar.com*

*Vol. 3, No.1 (2026)*
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

# د محمد نواز طائر په نظمونو کښې د فولکلور پلټنه

# A RESEARCH STUDY OF FOLKLORE IN THE POEMS OF NAWAZ TAIR

**Dr. Farkhanda**
Pashto Lecturer, Department of Pakistani Languages, NUML, Islamabad.
Email: farkhanda@numal.edu.pk
**Mr. Rizwanullah Khan**
Pashto Lecturer, Department of Pakistani Languages, NUML, Islamabad.
Email: rizwanullah.khan@numal.edu.pk

## Abstract

*This study examines the representation and significance of folklore in the Pashto poetry of Nawaz Tair, a prominent literary figure known for his contribution to Pashto language and culture. Folklore, as an essential component of Pashtun heritage, is deeply embedded in Pashto poetic traditions, reflecting the collective beliefs, customs, values, and historical consciousness of the society. The research investigates how Nawaz Tair incorporates folkloric elements such as oral narratives, proverbs, myths, symbols, and cultural motifs into his poetry. Using a qualitative and analytical approach, the study explores selected poems to identify recurring folkloric themes including honor, love, bravery, hospitality, and spiritual symbolism.*

**Keywords:** Nawaz tair, Pashto poems, folklore, proverbs, traditions etc.

پروفېسر محمد نواز طائر د خپل یو لوستے ادبي شخصیت وۀ، د هغوي د ادبي خدماتو نه هم د هغوي د لوستې، پوهې او مطالعې ادراک کېږي ـ هغوي د نورو خصوصیاتو نه علاوه پښتو ادب ته د شاعرۍ د لارې هم ډېرې بخښنې کړې دي ـ د هغوي د شاعرۍ مختلف کتابونه چاپ شوي دي چې په وړومبي باب کښې ئې نومونه او تفصیل ذکر شوے دے ـ که د هغوي د شاعرۍ په لور ځېر شو نو هغوي مختلف شعري اصناف لیکلي دي، چې په کښې یو ښکاره او لوے صنف "نظم" دے ـ د هغوي د شاعرۍ په کتابونو کښې هم د هغوي نظمونه چاپ شوي دي او د دې نه علاوه ئې د نظمونو منفرد کتابونه هم د چاپ په ښه زمونږ په وړاندې دي ـ د هغوي په نظمونو کښې د فولکلور په حقله ډېر څۀ موجود دي

پروفېسر محمد نواز طائر د جدید نظم په حواله بنیادي نوم دے ـ دوي په خپلو نظمونو کښې د ژوند سره تړلي مختلفو موضوعات په مختلفو پېرایو کښې ډېر په هنري انداز راوړي دي ـ د پروفېسر محمد نواز طائر چې د نظم کوم اړخونه دي په هغو کښې فولکلور هم یو ښکاره اړخ دے ـ د دوي په تخلقي لیکونو کښې نظم د فولکلور په حواله ډېر غني دے ـ دوي په خپلو نظمونو کښې د فولکلور د همه قسمونو نه تاؤ راتاؤ شوي دي ـ البته دا خبره په دې تسلسل کښې یاد ساتل ضروري دي چې دغه زیاتره یادؤنې په غېر شعوري توګه دي ـ د پروفېسر محمد نواز طائر "زما محل" نومې نظم دا برخه اوګورئ چې د فولکلور رنګ ترې په ډاګه کېږي ـ

"زما معمار د تورو ټکو د محل یم

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
*www.al-aasar.com*
*Vol. 3, No.1 (2026)*
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

دا محل۔۔۔۔
چې د فکرونو په دنیا کښې
ما د حسن د اوصافو نه ساز کړے
څو خوبونه ارمانونه مې راوړي
څو خیالونه
چې وختونو پیدا کړي
د فکرونو سلسبیل مې په کښې تېر دے
چې زما د زړۀ دنیا کښې زېږېدلے
څو د حسن رنګینۍ زما د فکر
چې د ستورو د رڼا ئې پلوشې دي
په فضا د دې محل د بوډۍ ټال دے
څو د عشق حکایتونه مې راوړي
ښاپېرو نه د خیالونو مې غوښتلي
چې کنګرے د دې ماڼۍ شوې ترېنه سازې
د پښتو ځینې سپېځلي روایات دي
اندېښنې مې د وختونو رودادونه
کړې راټولې"[1]

په پورته بېلګه کښې د مادي فولکلور رنګ د ټال د تذکرې په ډول زمونږ په وړاندې دے ۔ د دې نه علاوه په کښې د ښاپېرو ذکر شوے دے چې د توهماتو د باب اهمه موضوع ده او د فولکلور په زمره کښې راځي۔

فولکلور ډېره وسیع غېږه لري، د انساني ژوند بلها اړخونه په خپل ځان کښې راټولوي۔ د مادي څیزونو نه علاوه روایات او رسمونه هم د فولکلور اهم توکي دي۔ د هر یو قوم فولکلوري برخه د هغوي د ژوند هر اړخیز انځور لري۔ په پښتني فولکلور کښې د پښتني دود دستور او پښتني اقدارو او روایاتو برخه هم وي۔

په پښتني اقدارو کښې مېلمه پالنه یو داسې ښکاره قدر دے چې د پښتنو نه علاوه ئې نور قامونه هم ستائنه کوي۔ پښتنو چې په تاریخ کښې په کومو خصوصیاتو خپله منفرده پېژندګلو پیدا کړې ده په دغو کښې مېلمه پالنه هم شامل دي چې د مېلمستیاء په نامه یادېږي۔

پروفېسر محمد نواز طائر د نورو اړخونو نه علاوه د مېلمستیاء تذکره هم په خپلو نظمونو کښې کړې ده، چې دا لاندې نمونه ئې دلالت کوي:

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
*www.al-aasar.com*
*Vol. 3, No.1 (2026)*
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

"هـــــــر ســـــــــېـږے ئـــــــي خـــــــــوار زار وۀ
نـــــــــۀ ئـــــــي زور نـــــــــۀ اقتـــــــــدار وۀ
د مېلمـــــــــه قـــــــدر پــــــــري ډېـــــــر وۀ
پــــــــري د مـــــــــال او ســـــــــره تېـــــــر وۀ"[2]

په دنيا کښې د هر يو قام د ژوند خپل يو انداز او خپله يوه طريقه وي، پښتانۀ هم د خپل ژوند يو منفرد روش لري۔ که مونږه د پښتنو د ژوند په لور فکر وکړو نو دوي د وخت سره مختلف قسم رسمونه او رواجونه خپل کړي دي او د هغو مطابق ئې ژوند تېر کړے دے۔ په دغه رسمونو کښې ځينې مثبت دي او ځينې منفي۔ د دوي چې کوم منفي او پرېوتي رسمونه دي په هغو کښې يو تهال اخستل دي چې د ولور په نوم يادېږي۔ د دې دستور مطابق پښتنو به د خپلو خوئندو يا لوريانو په سر پيسې اخستې۔ په ابتداء کښې د دې دستور اغاز په مثبته توګه شوے وۀ، ولې وروستو ئې بدل رنګ اخستے وۀ۔ ځکه نو پښتانۀ چې د کومو رسمونو په وجه په بده يادېږي يو دستور په کښې دا هم شامل دے۔ښاغلے جميل کاچوخېل د دې دستور په حقله ليکي چې:

"دا د تولو نه سپېرۀ، حرام او بدنام رواج وۀ، چې پښتانۀ ئې په تهوله دنيا کښې بدنام او رسوا کړي دي، دنيا دا ګڼلي او منلي ده چې پښتانۀ لوڼه او خوئندې خرڅوي ، که پخوا هر څنګه وو خو زما د يادو دا يو علامتي شان رواج وۀ، د هلک پلار نه به څۀ لږې پيسې اخستلې، دې ته به ئې د "سر پيسې" وئيلې"[3]

پروفېسر محمد نواز طائر د پښتنو د ټولنيزو رسمونو رواجونو د نزدې نه مطالعه کړې وه، د دې نه علاوه هغۀ د پښتنو د تېرو شوو رواياتو نه هم خبر وۀ۔ په دې وجه د هغۀ په نظمونو کښې د نورو رسمونو او قدرونو د يادونې نه علاوه دغه بد دستور ته هم اشاره شوې ده، وائي:

"زمــــــا د قـــــــام د ښــــــکلو پېغلـــــو ارمــــــاني ژوندونــــــه
د دوئ پــــــه برخـــــه بـــــه تـــــر څـــــو وي وار نـــــا وار غمونــــه
چرتــــه دنيــــا کښــــې پــــه بــــل ځــــاے کښــــې داســــې حــــال نشــــته دے
يـــــو پښــــتانۀ دي چــــې ئــــې د دوي پلــــو څــــۀ خيــــال نشــــته دے
لکــــه څـــــاروي ئـــــې خرڅــــوي د ســــر روپـــــۍ ئـــــې غـــــواړي
مجـــال ئـــې نشـــته چـــې بـــه دوئ پـــه خپـــل نصـــيب وژاړي"[4]

توهمات د فولکلور اهمه برخه ده، په توهماتو کښې کوډې، تعويزونه، زيارتونو له تګ، پېريان، جادو وغېره شامل وي۔ د انساني ژوند سره دغه ټول څيزونه تړلي راروان دي۔ په هر دور

کښې انسان د دې ټولو څیزونو سره اشنا پاتې شوے دے. پروفېسر محمد نواز طائر په خپلو نظمونو کښې په دې حقله هم ډېر څهٔ وئیلي دي چې د فولکلور په ضمن کښې راځي. دا لاندې نمونه ئې د نظم د لوستو وړ ده چې هغوي په کښې د پېریانو ذکر کړے دے، وائي:

"تورې تیارې راخورېدې
د باغ په سیمه باندې
د هرې ونې نه ورو ورو توره بلا جوړېده
سروې هم داسې ښکارېدې
لکه پېریان وي ولاړ"[5]

لکه چې وړاندې ووئیلے شول چې پښتنو په هر دور کښې د خپل ځان دپاره د ژوند خاص اصول او روایات ټاکلي دي او د هغو مطابق خپل ژوند کوي. د پښتنو د ژوند د مطالعې په اوان معلومېږي چې ګودر هم د دوي د ژوند یوه اهمه کړۍ پاتې شوې ده. پښتنو ګودر ته په هر یو دور کښې احترام لرلے دے. د ګودر نه مراد هغه ځاے دے چرته چې به یوه چینه وغېره وه او جینکو به ترې د کور د استعمال دپاره اوبهٔ راوړلې. دغه اوبهٔ به ئې عموماً په سحر او مازیګر راوړلې ، جینکۍ به ټولې لکه د زانړو یو ځاے تللې. او دا جینکو د تفریح یو اهم مقام وهٔ. د دې هر څهٔ نه علاوه دا هغه مهم ټاټوبے وهٔ چې جینکو به په کښې یو بل ته د خپلو زړونو حالونه افشا کول. د پښتو په اولسي ادب کښې د ګودر ذکر ډېر شوے دے. او ورسره مختلف قسم روایات هم تړلے شوي دي.

پروفېسر محمد نواز طائر په خپل یو نظم کښې د ګودر ذکر هم کړے دے، چې د بنده په زړهٔ او ذهن د پښتون دود دستور زاړه یادونه راتازه کوي. وائي چې:

"هره ښکالو
راته ښکالو د چمچمار ښکارېدهٔ
اوبهٔ رواني وي
خو رودونه وو دریاب ښکارېدو
لکه چې وو
تورو تیرو ورله وسعت ورکړے
نهٔ ئې ګودر معلومېدو
نهٔ د پایاؤ پته وه
نهٔ راته ځان د دریابونو لامبوزن ښکارېدو"[6]

په پورته شعرونو کښې د ګودر او منګي ذکر شوے دے، د دې نه علاوه د مازیګر ذکر ئې هم کړے دے۔ منګے او ګودر چې څنګه د یو بل دپاره لازم ملزوم دي، هم دغه شان ورسره د مازیګر ترون دے۔ ځکه چې جونو به عموماً په مازیګر کښې د ګودر نه اوبهٔ راوړلې ۔ د یو بل نظم دا شعرونه ئې هم د ګودر یادؤنه ظاهروي چې:

"پاتې ژوندون به تېرووم
د دلدار په طمع
کښېناستے نهٔ شم
بې موجبه د رېبار په طمع
ما سره مل
د جانان مینه د ازل راسې ده
د زړهٔ په کور کښې خوندي کړې
ما په چل ایښې ده
زهٔ بې ګودره دې رباب ته
ورګډ شوے نهٔ یم"[7]

ګودر د پښتنو په دود دستور او روایاتو کښې ډېر بنیادي کردار ادا کوي۔ که یو طرف به د جونو د دې نه د کور د ضرورت اوبهٔ پوره کولې، نو بل خوا به د دې روایت په ذریعه سره د جونو د یو بل سره ملاقات هم کېدو۔ د دې نه علاوه کله کله به د بعضې جونو د چنغول سره د لیدنې او کتنې باعث هم جوړ شو۔ لکه چې د پښتو یوه ټپه پرې هم ګواهي کوي:

ګودر ته ځم راپسې راشهٔ
ما په منګي کښې پراتې راوړې دینه[8]

پروفېسر محمد نواز طائر دا هر څهٔ که یر طرف ته په پښتنه ټولنه کښې په خپله لیدلي کتلي وو نو ورسره ئې د فولکلور د لارې هم د دې رسمونو او رواجونو کره کتنه کړې وه۔ لکه د هغوي د یو بل نظم نمونه چې د ګودر یادؤنه کوي، ولې د پورته ټپې موضوع ئې هم احاطه کړې ده۔ وائي چې:

"تا به پخوا دا وئیل
ما په منګي کښې تاله ، دې پراتې راوړې
زهٔ به ګودر ته راتلم
د پراتو په بانه
ستا پراتو ته داسې ، زهٔ څه لېواله نهٔ ووم
زهٔ خو به تش را تلمه

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

ستا د دیدن دپاره
سحر په توره خړه تا چې خړه
تا چې کړه لار بدله
او پراتې نۀ راوړې
خو زۀ راځمه دلې
اوس مې عادت دغه دے
که ته راځې او که نۀ"[9]

د فولکلور درې لوے قسمونه دي، په وړومبي باب کښې پرې تفصيلي رڼا اچولے شوې ده، ځکه ئې دلته د دوباره وضاحت نه ژغورنه کولے شي ۔ په دغه درېو برخو کښې مادي فولکلور د انساني ژوند تر ټولو زياته برخه احاطه کوي۔ د مادي فولکلور بريدونه هم پوره وسعت لري۔ د نورو ډېرو څيزونو نه علاوه په کښې لباس هم راځي۔ د پروفېسر محمد نواز طائر په نظمونو کښې چې د مادي فولکلور کومه برخه ده نو په هغې کښې د لباس يادؤنه هم زمونږ په وړاندې ده لکه دا لاندې نمونه چې د څادر ذکر په کښې شوے دے، څادر د لباس مهم توکے دے:

"ښکلې دلبره!
په ما ګرانه ښائسته محبوبه!!!
دغه تور تم، تورې تيرې
په مخه لا زياتېږي
چې د قبلې په لور مې وکتل
برېښنا غوندې شوه
پاس په اسمان باندې وريځې
خپل څادر غوړؤ"[10]

د پښتنو په قدرونو او رواياتو کښې جرګه يو ډېر منظم عمل دے چې د ژوند د منتظم کولو او د ټولنې نه د لرې برې او اړې ګړې ختمولو په حواله خپل ځانګړے کردار لوبوي، د پښتنو ژوند چې د کومو اقدارو سره د پرمختګ په لور ګامزن شوے دے نو په دغو کښې جرګه هم شامل دے۔ جرګه د پښتنو په ټولنيز ژوند کښې يو ډېر لرغونے قدر دے۔ دغه قدر هر يو پښتون ته ګران دے، ځکه خو ورته په درنۀ سترګه ګوري او کله هم د جرګې نه مخ نۀ اړوي۔ د جرګې قدر هم خپل يو لرغونے تاريخ لري۔

د پروفېسر محمد نواز طائر په نظمونو کښې د جرګې تذکره هم شوې ده. يعنې د هغوی په نظمونو کښې د پښتون تهذيب او پښتون ثقافت کره او پوره تصوير پروت دے. دا نظم دا لاندې نمونه ئې په دې لړ کښې د پېش کولو وړ ده چې:

"زما محبوبه!
په ما ګرانه ښائيسته دلبره
جرګې جرګې وې
ګنګوسې وو غوسکارنې هم وې
څۀ فرېبونه
څۀ چل ول
څۀ شاطرې غوندې ده
هر يو سړے لکه ترکاڼ"[11]

په پورته نمونه کښې د جرګې نه علاوه د ترکاڼ ذکر شوے دے. ترکاڼ هغه چاته وئيلے شي چې د ترکاڼۍ په هنر پوهه وي. دا يو کلتوري کار دے چې د پخوا نه راروان دے. د کورونو د ضرورت دپاره مختلف څيزونه چې څۀ په کښې د لرګي نه جوړ شوي وي. د لرګي نه چې د روزمره ژوند څومره هم څيزونه تياريږي دا د ترکاڼ د لاس او هنر کمال وي.

د انساني ژوند سره تړلي بلها څيزونه دي چې زياتره برخه په کښې مادي ده، په مادي برخه کښې ډېر څېزونه راځي. د امروزه ژوند سره د تړلو لوبنو لرګو نه علاوه د موسيقۍ آلات هم په مادي فولکلور کښې راځي.

د موسيقۍ چې کوم څېزونه دي او د مادي فولکلور په زمره کښې راځي په دغو کښې شپېلۍ هم شامل ده. شپېلۍ د سريلي اواز ويستو يوه ښۀ اله ده. پروفېسر محمد نواز طائر محمد نواز طائر ئې د خپل نظم په دې برخه کښې ذکر کړے دے چې:

"د تن شپېلۍ کښې مې
هر مال
زما جانان غږېږي
تل راته وائي
همېشه په دې مذکور وئيږي."[12]

پروفېسر محمد نواز طائر د فولکلورسټ په حېث ډېر کار او زيار ترسره کړے دے، د نورو اړخونو نه علاوه ئې د پښتني رومانونو په حقله هم کار او زيار د ستائيلو وړ دے. رومان د انسان د پيدائش سره تړلے يو فکر دے، چې تر ننه قائم او دائم راروان دے. نارينه او زنانه دواړو د رومان له

اغېزو مبرا نۀ وي۔ که د هرې يوې سيمې فولکلوري برخې ته پام وکړے شي نو تقريباً په هره يوه سيمه ارو مرو څۀ روماني داستانونه تېر شوي وي۔ د پښتنو په سيمه هم د روماني داستانونه روايت پاتې شوے دے۔ په دې سيمه داسې روماني کردارونه پېدا شوي دي چې په خپل ځاے ئې مثال نۀ پېدا کېږي۔ په شاعرۍ کښې د روماني داستانونو په لور اشاره کول يا د کومو روماني کردارونو تذکره کول هم د فولکلور په زمره کښې راځي۔

ځومره چې هم اولسي اصناف دي نو په هغو کښې هم د روماني داستانونو او روماني کردارونو يادؤنه موجود وي، لکه پښتو ټپه زمونږ سره په دې حواله يو بنيادي صنف دے چې په خپل ځان کښې ئې بلها رومانونه ځاے کړي دي۔

د پروفېسر محمد نواز طائر په شاعرۍ کښې هم د روماني کردارونو او داستانونو په لور اشاره شوې ده، لکه د مثال دپاره ئې د نظم دا نمونه د لوستو وړ ده چې:

"ربه ستا حکم ته تسليم شومه
تکل مې وکړو
تېشه په لاس
په کنستلو د الوند سر شومه
غر کنستل
رود ترې ويستل
داسې اسان خو نۀ وو
ستا په کرم
هم ستا د مينې په جذبو بر شومه
جنون د عشق
د بېستون په کنستو سر کړمه
ماته معلومه وه
دا کار داسې اسان خو نۀ وۀ
نۀ مې رود جوړ کړو
نۀ مې خېټه د الوند پاره کړه
د جانان امر
سرکولو کښې ناکامه شومه
غر چې مات نۀ شو"[13]

که مونږه د نواز طائر د نظمونو په لور پام وکړو نو هسې خو په کښې د فولکلور برخه ډېره ده، خو د نورو فولکلور برخو په ځاے ئې په نظمونو کښې د مادي فولکلور عنصر ډېر دے. چې وړاندې ئې هم ما ذکر کړے دے. د نظم په دې لاندې برخه کښې ئې د کټ پوزې او کچکول ذکر کړے دے چې د مادي فولکلور په زمره کښې د يادولو وړ توکي دي:

"بس دے پوره شوه
پس له دې نور انتظار نۀ کووم
کټ پوزے نغاړمه
ورځمه نور قرار نۀ کووم
ځم،
په کچکول پترې وهم
په خبر ګدا پسې ځم
چرته د ښار ناشنا کوڅو کښې مې اشنا لټووم"[14]

د نظم په دې شعرونو کښې ئې هم د کچکول ذکر کړے دے چې:

"سحر چې پورته شم له خوبه
په ثناء دې سر شم
کچکول مې واخلم
د ديدن په خبر ګدا دې سر شم
وايمه ربه
د خپل يار وصال نصيب کړې زما"[15]

پښتنې جونه د سينګار دپاره چې کوم ځيزونه پکاروي، په دغو کښې نکريزې پېژندلے ځيز دے، نکريزې جونه د خپلو لاسونو او پښو د سرو کولو دپاره استعمالوي. په کورونو کښې ئې د جينکو نه علاوه مشرانې زنانه هم په کار راولي. دا دستور د دوي په کلتور کښې د پخوا نه رواج لري. نواز طائر د نکريزې د سرخط لاندې يو نظم ليکلے دے چې په کښې ئې د نکريزې په اړه بحث کړے دے او بيا ئې دغه نظم په ټپه پائې ته رسولے دے، څۀ داسې دے:

"نکريزې

د شنې نکريزې پاڼې
ميدۀ اوړه شي
خورنګ نۀ بدلوي
دا چې په لاس د معشوقې پرېوځي

**AL-AASAR Journal**
**Quarterly *Research Journal***
***www.al-aasar.com***
***Vol. 3, No.1 (2026)***
**Online ISSN: 3006-693X**
**Print ISSN:3006-6921**

سرخي سر ګنده کړي
حنا شي سره شي
د محبوبا ښائست
ددي رنګينې
د حنا رنګ ورله ښکلا ډېروي
د هرمئين
په زړهٔ کښې دا تېرېږي
تن مې د شنې نکريزې پاڼه
بهر تازهٔ دننه رنګ په وينو يمه "[16]

پښتنائهٔ چې څنګه د تاريخ په پاڼو کښې منفرد دي، هم دا رنګې ئې ژوند د نورو قامونو نه ډېر منفرد دے۔ د دوي روايات د نورو قامونو او اولسونو نه ډېر بدل دي، چې د کوټلو رواياتو په وجه منفرد هم جوړ شوي دي۔ د پښتنو د وادهٔ ښادۍ او نورو مذهبي تهوارونو د ترسره کولو خپل خپل روايات دي۔ ځينې ذمه دارۍ بيا داسې دي چې هغه د نارينؤ په سر وي او ځينې د زنانؤ په سر۔
ځان جوړول يعني ځان سينګارؤل د زنانؤ د نفسياتو سره تړلې خبره ده۔ د تاريخ د پاڼو له رويه زنانه د ژوند په هر يو پړاؤ او هر يو عصر کښې د خپل ځان د سينګارولو دپاره مختلف قسمه توکي استعمال کړي دي او د ځان د ښائسته کولو کوشش ئې کړے دے۔دا روايت اوس هم ژوندے دے، خو د وخت سره په کښې جدت راځي او جونه کوشش کوي چې په دې سلسله کښې د نوو نوو توکو د استعمال نه کار واخلي۔ په ابتداء کښې چې زنانؤ د خپل سينګار دپاره کوم توکي په کار راوستل په دغو کښې دنداسه، رانجه او نکريزې شامل وې۔ نکريزې به دوي د خپلو لاسونو د سرهٔ کولو دپاره استعمالولې۔دا به په اختر شوقدر هم پورې کولے شوې او د نورو خوشحالو لکه ودونو ښادو، اخترونو وغېره په موقع هم ۔ نواز طائر د نکريزو د سرخط لاندې يو نظم ليکلے دے چې څهٔ داسې دے:
"سرهٔ ډولۍ
په اندېښنو کښې به زما هم
کله وخت تېريدو
ما به ليدل ځينې وخت
دا ارماني خوبونه
چې سازوم په مينه
زهٔ د ګلونو ګجرې

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

مي د جانان د مړوند
د لاس خوندو دپاره
داد سپرلي دورځو د ګل کېدو موده وه
زما جولۍ د که ده
د زیړو سرو ګلونو
زۀ د دیدن به بانه
د یار کوڅي له ځمه
د یوي پېغلې اواز
زما په غوږو راځي
هغه د زړه په مینه ، تېروي دا سندره
بېګا مي خوب لیدو عالمه
به سرۀ ډولۍ کښې جانان کور ته وړي یمه"[17]

د نظم مختلف قسمونه دي، ټپئیز نظم هم د نظم یو بنۀ قسم دے۔ ټپئیز ورته ځکه وئیلے شي چې په اخره کښې ئې خبره په ټپه باندې پائي ته رسي۔ پورته ټپئیز نظم که یو پله د نکریزو د سرخط لاندې لیکلے شوے دے نو په پائې کښې ئې د ډولۍ ذکر هم شوے دے۔ چې د پښتنو د دستور اظهار هم دے او د مادي فولکلور توکے هم۔

د انسان د پیدائش نه چې پس چې دۀ ته د کومو څیزونو ډېر ضرورت دے، نو په هغو کښې خوراک ډېر اهم دے۔ ځکه چې د دې په ذریعه سره انسان ژوندے پائي۔ د وخت سره خلقو د خپلې خپلې خوښې خوراکونه د خپل ژوند حصه ګرځولي دي۔ او د هغوي د ثقافت برخه ده۔ پښتانۀ د خوراک په حواله هم منفرد دي۔ په ابتداء کښې به د دوي خوراکونه هم ساده او کلیوال وو۔ د دوي په کلي والو او ساده خوراکونو کښې به اکثري قدرتي او فطري څېزونه لکه پې، ماسته، شوملې وغېره شامل وو۔

پروفېسر محمد نواز طائر خپل یو نظم د "شوملې" سرخط لاندې لیکلے دے۔ د شوملو ذکر په پښتو ټپه کښې هم شوے دے لکه د مثال دپاره دا یوه ټپه چې:

"جینۍ د بره چمه راغله
په تور څادر ئې شوملو لارې کړې دینه"[18]

د پروفېسر محمد نواز طائر دغه نظم څۀ په دې ډول دے چې:

"شوملې
چې مندانو تاوهي

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
*www.al-aasar.com*
*Vol. 3, No.1 (2026)*
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

نو به شوملې پرې شاربي
د دې کتوې کوچ به نو هغه ولې نۀ خوري
دا د دنيا کټوه
دغسې ده ملګرو
چاله شوملې ورکوي
او چاله کوچ ورکوي
کوچ د مغرب د شاطرانو برخه
چې شوملې پاتې شي
دا هم خرڅوي
دے منداړو د هوښيارانو سره
که مونږ له دوئ
پاتې تروې راکوي
هغه هم تېولې زرداريان اوڅښي
مدکي خوار ، دا هسې نه وائي چې
تخې ئې کور په کور خورې کړي
په خوار مدکي ئې تروې نيولې دينه"[19]

په پورته نظم کښې دوي د شوملو په حقله پوره بحث کړے دے او د دې نه علاوه ئې په دغه نظم کښې ځينو نور ځيزونه هم ياد کړي دي چې د مادي فولکلور په زمره کښې راځي۔

د پښتنو د ژوند چې کوم منفرد رواجونه دي په دغو کښې اشر هم شامل دے۔ اشر په اصل کښې په شريکه د يو کار کولو ته وائي۔ کوم کار چې يو کس په لسو ورځو کښې کوي، لس کسان ئې په يوه ورځ کښې کوي۔ دغه دستور د پښتنو په ژوند کښې د اسانۍ باعث هم دے او د يو بل سره د همدردۍ اظهار هم۔ د دې دستور اغاز په پښتنو کښې ډېر د پخوا نه موجود دے۔ پخوا نه چې به پښتنو لۀ کولو يا نور د امروزه ژوند کارونه نو دوي به د اشر په ذريعه د يو بل مرسته کوله۔ پروفېسر محمد نواز طائر د "اشر" د سرخط لاندې يو زړۀ پورې تېئيز نظم ليکلے دے، چې څۀ په دې ډول سره دے:

"اشر

احسان کول
د پښتنو کتاب کښې نشي موندے
اوړه په اوړه چې شي منت د څۀ وي

دا اولس دا رنګي احسان نۀ مني
دا خو يو امر دے
دا امر منل
ددې وګړي د فطرت برخه ده
په دې عمل کول کردار دے د دوئ
خپل دې کردار ته شا کولے نۀ شي
دغه کردار د لاس و پښو تر حده
په ځان منلو ته اشر وائي
ابي دادا سره احسان کول
په احسان نه شماري دا حق ئې مني
مالي ځاني مرسته کول احسان دے
خو دې عمل ته سمه غاړه نۀ ږدي
ځکه خو هر څوک په واز کومي وائي
په دنيا ښۀ راسره اوکړه
په اخرت کښې د هر چا ښېل ښېل کورونه"[20]

د نواز طائر په نظمونو کښې د فولکلور برخه ډېره زياته ده، په مختلفو ډولونو ئې په نظمونو د فولکلور رنګونه خوارۀ وارۀ ليدے شي. متل د ژوند اهمه حصه ده او په فولکلوري اصنافو کښې د يو جدا صنف په توګه هم پېژندګلو ، پروفېسر محمد نواز طائر د متل په حقله هم ډېر کار کړے دے. خو د دې نه علاوه ئې د "متلونه" د عنوان لاندې يو داسې شاهکار نظم ليکلے دے چې په کښې ئې ډېر په هنر سره متلونه راوړي دي. دغه نظم څۀ داسې دے:

"متلونه

په خپله ژبه غرېدم
پښتنو نۀ پېژندم
خو چې اواز مې د لويديځ تر ميکدې اورسېد
نو چا چې واورېدو شو پوهه دا پښتون اواز دے
د کاڼي کربښې دي
دورونه په دې راز پوهه دي
چې څوک پرې پوهه وو هغوي تم شو
غوږ غوږ شو ورته

خو خپل وګړي مې په دې هېڅ خبردار نهٔ شو
په سنګرېزو کښې
د لعلونو لټون کېږي ښنګه"[21]

ښومره پورې ما د پروفېسر محمد نواز طائر د نظمونه مطالعه وکړه، نو په دې نتيجه ورسېدم چې د دوي نظمونه د هيئت له رويه په مختلفو هيئتونو کښې دي. يعني دوي محض د نظم يو خاص هيئت نهٔ دے خپل کړے. د دې نه علاوه ئې نظمونه په فکري ډول سره هم ډېره پراخه سينه لري.

په پورته مخونو کښې د دوي په نظمونو کښې د فولکلور مطالعه په تحقيقي توګه پېش کړلے شوهم، د دوي په نظمونو کښې که د فولکلور کومه برخه ده نو هغه هم دغه رنګ لري، د دې نه علاوه د دوي په نظمونو کښې د فولکلور نورو توکو په اړه خاص ښهٔ زما د نظره نهٔ دي تېر شوي. پورته د دوي په نظمونو کښې د فولکلور د ښېرنې چې کومه هڅه شوې ده په دې کښې ما ترممکن حده کوشش کړے دے چې د هغوي د هر يو نظم په دې تناظر کښې مطالعه وکړم او د ښېرنې چې کوم نچوړ او نتيجه رابهر شوې ده هغهٔ ستاسو په وړاندې ده. د دغه بحث نه دا خبره په ډاګه شوې چې د پروفېسر محمد نواز طائر په نظمونو کښې د فولکلور برخه موجود ده او هغهٔ په دې حواله يو لوے او بنيادي نوم لري.

## حوالې

[1] طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، لرغونے خوب، الفلاح پرېس پېښور، ۱۹۷۷ء، مخونه ۱۴، ۱۳
[2] هم دغه اثر، مخ ۲۲
[3] هم دغه اثر، مخ ۳۸۱
[4] هم دغه اثر، مخ ۴۸
[5] هم دغه اثر، مخ ۳۵
[6] هم دغه اثر، مخ ۳۶
[7] هم دغه اثر، مخ ۱۱۷
[8] سلمیٰ شاهين، روهي سندرې، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، ۱۹۸۴ء، مخ ۳۵۶
[9] طائر، محمد نواز ، پروفېسر، د بوډۍ ټال، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ ۲۷
[10] هم دغه اثر، مخ ۳۶
[11] طائر، محمد نواز ، پروفېسر، د بوډۍ ټال، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ ۵۶
[12] محمد نواز طائر ، ابدي سندره،عامر پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۱۴ء، مخ ۳۴
[13] هم دغه اثر، مخ ۴۳
[14] هم دغه اثر، مخ ۶۳

*Vol. 3, No.1 (2026)*
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

[15]هم دغه اثر، مخ ۶۳
[16]هم دغه اثر، مخ ۷۲
[17]هم دغه اثر، مخ ۷۱
[18] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۱۹۸۴ء، مخ ۱۹۸
[19]هم دغه اثر، مخ ۷۰
[20]طائر، محمد نواز ، ابدي سندره، مخ ۴۴
[21]هم دغه اثر، مخ ۱۲